**CHECK AGAINST DELIVERY**

**د مېرمن زبیده اکبر بیانیه**
**د افغانستان په اړه د ملګرو ملتونو د امنیت شوار غونډه**
**۸ مارچ ۲۰۲۳**

جناب رییس، عالی جنابانو او د مدني ټولني همکارانو،
زه زبیده اکبر یم، له افغانستانه د بشري حقونو مدافع. نن زه خپله بیانیه د «آزادي اکنون» سازمان له خوا وړاندي کوم. هغه سازمان چي د بشري حقونو څخه دفاع کوي او په مستقیمه توګه د هغو ۲۰ غورځنګونو سره کار کوي چي د خلکو له خوا جوړ شوي او ښځي يې مشراني دي.

ویاړم او خپل مسوولیت ګڼم چي نن د ښځو په نړېواله ورځ د امنیت په شورا کي د نړي تر ټولو بد ناورین چي د ښځو حقونه دي، خبري وکړم. لکه څنګه چي دا شورا خبره ده، له هغه ورځي چي طالبان د ۲۰۲۱ کال په اګست میاشت کي واک ته ورسېدل، نو د افغان ښځو او نجونو حقونه نابود شول. طالبانو له ۴۰ زیاتو فرمانونو په صادرولو سره هڅه کړې نه یوازې ښځي له عمومي ژونده پاکي کړي بلکه زمونږ انسانیت هم له مېنځه یوسي.

اجازه راکړئ، چي په افغانستان کي د ننی ښځي د ژوند څو بېلګي له تاسي سره شریکي کړم.

- نن۵۳۴ ورځي وشوي، چي تنکی نجوني ښوونځیو ته نه دي تللي او ۷۸ ورځي شوي چي ښځي له پوهنتونو منع کړای شوي دي او افغانستان د نړي یوازینی هیواد دی چي ښځي پکي له هر پلوه له زده کړو په رسمي توګه منع شوي دي، چي دا د نسلونو لپاره ناروین زېږوي.
- طالبانو خپله ټوله هڅه کړې چي د ښځو د حرکت او بیان آزادي محدوده کړي. ښځي له نارینه سرپرست پرته نشي کولی له ۷۵ کیلومتر زیات سفر وکړي. په عمومي حمامونو، رستورانتونو او پارکونو کي د ښځي په حضور بندیز لګول شوی. حتا کله چي د ملګرو ملتونو د سرمنشي مرستیالي او د ملګرو ملتونو اجرایی مدیر افغانستان ته وروستی سفر کړی و، نوهغوی ته وویل شول چي له محرم پرته هلته و نه اوسي او له طالبانو سره ناسته ورته حرام وګڼل شوه. دوی د هغه څه یوه کوچنی برخه تجربه کړه، چي طالبان يي هره ورځ په میلیونونه افغان ښځو تحمیلوي.
- د حقوقي سیستم په بشپړه توګه له مېنځه تلل او د ښځو محرومیت له هغه څه څخه چي تري پاتي دي، په دې مانا ده، چي کومي ښځي چي له کورنی تاوتریخوالي سره مخ دي، عدالت ته لاسرسی نلري.
- په وروستیو کي د طالبانو جنګیالیو د حامله ګی د مخنیوي توکو خرڅلاو منع کړی دی. په هغه هېواد کي چي د مور او ماشوم مړینه تر ټولو لوړې کچي ته رسېدلي، ښځي نه یوازي د ماشوم زیږولو د انتخاب لږ حق هم نلري، بلکه ددغه کار د ترسره کولو لپاره خپل ځان هم په خطر کي اچوي.
- د ښځو د کار پر وړاندې بیلابیل محدودیتونه وضع شوي دي. په غیر دولتي موسسو کي د ښځو د کار منع کولو په اړه د طالبانو وروستی پرېکړه ددې سبب شوه، چي له ۱۰۰ زیات مدني سازمانونه په بشپړه توګه فعالیت ونشی کړای. په داسي حال کي چي ځینو يي د روغتیا او پوهني په برخه کي کار پیل کړی دی. روښانه ده، چي ددغه بندیز سملاسي او پرته له قید او شرطه له منځه وړل، کوی شي د ۲۸ میلیونه افغانانو په تېره ښځو او نجونو ژوند وژغوري چي په بشري مرستو پوري تړلی دی. زه غواړم په دې ټکي ټینګار وکړم، چي مونږ تل دا اوریدلي چي نړېواله ټولنه وايي افغانستان له یوه لوی کړکېچ سره مخ دی: ژوند ژغورل او یا له طالبانو سره د بشري حقونو د نقض پر سر جنجالونه. خو زه غواړم وپوښتم، د کومو کسانو ژوند ژغورئ؟ او په کوم بیه؟ له ښځو پرته د بشري اقداماتو تعقیب او ارزونه یا د هغو مرستو ویش چي ښځو ته نه رسیږي او له ټولني ددوی په ویستلو کي لا مرسته کوي. بشر دوستانه کړني باید پرته له تبعیضه او د حقونو پر بنسټ ترسره شي. زه له تاسي غواړم چي دا په یاد ولرئ، دا کړني ممکن اوس د انسانانو ژوند وژغوري خو د روان ناورین لپاره تل پاتي حل لاره او بدیل نشي کېدلی. په افغانستان کي ښځي راته وايي، چي له دې حالت سره يي ساه بندیږي او ناهیلي دي. ځواني نجوني له ما سره د خپل ژوند د پای ته رسولو په اړه خبرې کوي. دا حالت نباید دوام ولري.

عالي جنابانو، یوه اصطلاح موجوده ده، چي د افغان ښځو اوسنی حالت په سمه توګه بیانولی شي: «جنسیتي آپارتاید». افغان ښځو، کارپوهانو او حتی د ملګرو ملتونو سرمنشی ګوترش د افغان ښځو او نجونو په وړاندې روان سیستماتیک تبعیض د

جنسستي آپارتايد په توګه غندلی دی. سربېره پر دې د طالبانو له خوا د جنسيت پر بنسټ له بشري حقونو سرغړونه، جنسيتي آزار د بشر پر وړاندې يو جنايت دی، چې د ملګرو ملتونو کارپوهان يې د څېړنې او له طالبانو د ځواب ويلو غوښتونکي دي. نړيواله صريح غندنه حياتي ده، خو بسنه نه کوي. د نړيوالو حقونو دا ډول څرګند نقض، د ملګرو ملتونو په منشور کې د برابرۍ او تبعيض نه کولو درج شويو مفاداتو له ډلې څخه دي، چې په نړيواله کچه د متناسب، همغږي او معنی لرونکي غبرګون غوښتنه کوي.
دا اقدام به روښانه کړي چې د ښځو حقونو نقض د زغملو او توجيه وړ نده او طالبان به يې له پايلو سره مخ شي. که تاسي دلته د افغان ښځو له حقونو دفاع ونکړئ، نو ددغه کار د ترسره کولو لپاره به بل ځای هم اعتبار ونلرئ.

**له معترضو ښځو ملاتړ**

د ۲۰۲۱ کال له اګست مياشتي له پېښوا د افغانستان په اړه دوه روايته موجود دي: يو د طالبانو واک  او دويم د ښځو مقاومت. د ښځو په رهبرۍ د خلکو خوځښتونه تر ننه د طالبانو پر وړاندې تر ټولو روښانه مدني مخالفت دی. دوی هره ورځ خپل ځان په خطر کې اچوي تر څو د ټولو افغانانو د بشري حقونو څخه دفاع وکړي. د يوه معترض په وينا، دا ښځې د آزادۍ سفيراني دي.
د سوله ييزو مظاهرو پر وړاندې د طالبانو ځواب له تاوتريخوالي ډک بريدونه، زندانونه او شکنجې دي. نرګس سادات، چې يوه ښځينه مظاهره کوونکې وه، څو اونی وړاندې د فبرورۍ په ۱۲مه، له کوم دليل پرته ونيول شوه. د هغه برخليک لا هم نامعلوم دی. تمنا زرياب پرياني او پروانه ابراهيم خيل په کابل کې له مظاهرو وروسته لادرکه شوې او څو اونۍ يې په توقيف کې تيرې کړې. نايره کوهستانی له خپل ماشوم سره ونيول شوه او د طالبانو په زندان کې له آزار او شکنجې سره مخ شوه. هغه زرګونه هزاره ښځې چې اعتراض کوي له لا زيات تاوتريخوالي سره مخ کيږي.
د افغان ښځو زړور مقاومت په عاجله توګه ستاسي ملاتړ ته اړتيا لري. هغوی تاسي ته اړتيا لري چې نوم يې واخلئ او د هغوی قضيو ته له طالبانو سره په تعامل کتنه وکړئ. هغوی تاسي ته اړتيا لري چې د هغوی آزادي وغواړئ. هغوی تاسي ته اړتيا لري چې هغوی ته پناه ورکړئ. هغوی تاسي ته اړتيا لري چې هغوی تامين کړئ او هغوی تاسي ته اړتيا لري چې د خپل حق غوښتني لپاره  د هغوی د نيونې، شکنجې، ورکېدو او وژل کېدو په مقابل کې له طالبانو ځواب وغواړئ.  دپايلو نشتوالی طالبانو ته جرات ورکوي چې خپلو دغو سرټکونو ته ادامه ورکړي.

**قومي او مذهبي ډلې**

د طالبانو لنډ مهالي کابينه چې اکثريت يې پښتانه او نارينه جوړوي، ددې څرګندونه کوي، چې هغوی ددې نيت نلري چې يو جامع او ټول شموله دولت جوړ کړي، هغه دولت چې پکې نور قومونه او ښځې شاملې وي يا له هغو قومي او مذهبي ډلو څخه ساتنه وکړي چې تل محرومه پاتې شوي دي.
طالبان نه يوازې پر هزاره وګړو د بريدونو په څېړلو کې پاتې راغلي او يا يې عاملينو ته سزا نه ده ورکړې، بلکې دوی په مستقيمه توګه د هزاره وګړو د ډله ييزو وژنو مسوول دي، چې کېدای شي جنګي جنايت وګڼل شي. د ۲۰۲۲ کال په نوامبر مياشت کې طالبانو د دايکندي ولايت پر يوه کلي بريد وکړ او د ماشومانو په ګډون يې ۱۱ هزاره وګړي ووژل.
نورې ډلې لکه د سکانو ټولنه د هدفي بريدونو له امله د خپلو کورونو پرېښودو ته اړ شوي او د تاجک، ازبک او ترکمن ټولنو غړي په جبري توګه له خپلو مېنو بې ځايه کيږي او د دوی ځمکې په کوچيانو او طالبانو باندې ويشل کيږي. د دايکندي او جوزجان ښځې هم راته وايي چې د دوی په سيمو کې د مرستو ويش نابرابره دی.
غير قانوني وژنو، وهلو ټکولو او د خلکو پر وړاندې اعدامونو ته د طالبان وحشيانه ستنېدل، د دې څرګند ثبوت دی چې دوی د وروستي واک له وخته نه دي بدل شوي. دوی د افغانانو حقونو او غوښتنو ته درناوی نه لري او د بدلون لپاره کوم پلان هم نه لري. دوی د اسلام يو افراطي او نرواکی تفسير په خلکو تحميلوي، د ښځو او محرومو ډلو د ځپلو اړوند دی.

دا د کورنۍ سولې لاره نده، د کورنۍ جګړې لپاره يوه بله لاره ده، هغه جګړه چې يوازې زمونږ تر سيمې به محدوده پاتې نشي. له همدې کبله زه له امنيت شورا غواړم چې لاندې کړنې ترسره کړي:

- له طالبانو وغواړئ چې د ښځو، نجونو، LGBTQI+ او ټولو محرومو ډلو په ګډون د ټولو افغانانو بشري حقونو ته درناوی وکړي او د ښځو پر حقونو ټول محدوديتونه پای ته ورسوي. دا پدې مانا ده چې، نه يوازې د زده کړو او په غير دولتي موسسو کې د ښځو په  کار کولو بنديز لغوه کړي، بلکې د ښځو په حقونو ټول بنديزونه لرې کړي کوم چې د "ښځو په وړاندې د هر ډول تبعيض د له منځه وړلو کنوانسيون (CEDAW)" په وړاندې د افغانستان مکلفيتونه نقض کوي.

- دا روښانه کړئ چې تر هغه پورې چې دغه اساسي شرطونه پوره نشي له طالبانو سره به هېڅ ډول بې قید و شرطه تعامل نه کيږي. د ښځو اندېښنو او لومړیتوبونو په پام کې نیولو پرته باید افغانستان ته په لوړه کچه هېڅ سفر ونه شي. زه له تاسو څخه غواړم چې طالبان په هیڅ صورت په رسمیت ونه پیژنئ، او د ملګرو ملتونو څوکی د هغوی په اختیار کې مه ورکوئ.
- په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه ماموریت (یوناما) اوسنی ماموریت لکه څنګه چې په 2626 (2022) پریکړه لیک کې مشخص شوی، پرته له کوم بدلون، د بل کال لپاره وغځوئ. یوناما اوس مهال اړ دی چې د روان ناورین کلیدي اړخونه په ګوته کړي چې د افغان میرمنو او نجونو لپاره خورا مهم دي، مګر تر اوسه یې د دې ماموریت په پلي کولو کې د افغانانو تمې نه دي برابرې کړي. اوس باید تمرکز پر دې وي چې یوناما د دې ماموریت ټول اړخونه په بشپړه توګه پلي کړي په ځانګړې توګه د کار په اوږدو کې د بشري حقونو څارنه او د ښځو حقونو ته لومړیتوب ورکول. زه د ملګرو ملتونو په ټولو مشرتابه او په ځانګړې توګه د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي له ځانګړي استازي څخه غوښتنه کوم چې زموږ د حقونو څخه په کلکه دفاع وکړي او ډاډ ترلاسه کړي چې د ښځو او محرومو ډلو د وضعیت په اړه راپور به، دې شورا ته ددوی ویناوو کې لومړیتوب ولري.
- ډاډ تر لاسه کړئ، چې د افغان ښځو او نورو محرومو ډلو بشپړ، برابر او معنا لرونکی ګډون به د افغانستان په اړه د هرې پرېکړې او په تېره ستاسو په پرېکړو کې اساسي رول ولري.
- د ښځو او نجونو په وړاندې د طالبانو د تاوتریخوالی غندلو لپاره، د بیانیو او پرېکړه لیکونو صادرولو ته په منظمه توګه ادامه ورکړئ او ډاډ تر لاسه کړئ چې د طالب مشرانو د سفر بندیز کې به هیڅ استثنا موجوده نه وي. که افغاني ښځې په خپلو کورونو کې بندیانې کیږي، نو طالبانو ته هم باید د سفر امکان موجود نه وي.
- له یوه کاله زیات وخت وشو، چې طالبانو له کومې پایلې پرته زما د خلکو حقوق له پښو لاندې کړي. له همدې کبله له تاسي غواړم نو له تاسو غواړو، چې د بشري حقونو د نقض اړوند، لکه د جنسیت پربنسټ تاوتریخوالو او د قومي، مذهبي او نورو څنډې ته شویو ډلو پروړاندې بریدونو لپاره د ځواب ویلو له غښتلتیا څخه ملاتړ وکړئ.

افغان ولس د جنسیت، توکم او مذهب له توپیر پرته د خپلو بشري حقونو مستحق دي. که طالبانو ته اجازه ورکړل شي چې دې لارې ته دوام ورکړي، نو د افغانستان د بیا رغونه به څو نسلونه دوام وکړي. لکه څنګه چې تاسو نن د خپل هیواد د راتلونکي په اړه فکر کوئ، زه له تاسو څخه غوښتنه کوم چې د خپلو لوڼو، میرمنو او خویندو په اړه فکر وکړئ او له ځانه وپوښتئ چې ولې افغان مېرمنې له نورو کمې ګڼل کیږي؟

ډېره مننه